دافغانستان اسلامی جمهوریت

دپوهنی وزارت

# د پکتیکا پوهنی ریاست

## دکلني پرمختګ او پایلو پربنسټ راپور

کیفیت او تړاو

اندولیز لاسرسی

آغېزمن، روڼ او ځواب ویوونکی مدیریت

دراپور لیږلو دوره

له : ۱ مرغومی ۱۳۹۷

تر: ۳۰ لیندی ۱۳۹۸

**دمطالبو لړلیک**


د ولایت په کچه عمومي معلومات ولایتي پروفایل .............................................. 4

د کړنو لنډیز:..................................................................................... 5

د پوهنې وزارت د دریم ستراتیژیک پلان NESP III د عرصو په اساس پرمختګونه او لاسته راوړنې......................................................................................... 8

۲. زده کړې ته برابر لاسرسی: ................................................................... 10

۳. روڼ او اغیزمن مدیریت ........................................................................ 12

پایلې........................................................................................... 13

مالی راپور ..................................................................................... 14

عادی اوانکشافی بودجه، اختصاص شوی بودجه او لګښتونه.................................. 14

## د ولایتي راپور ترتیب کوونکي

| لاسلیک | Email | تماس شمیره | دنده | نوم |
|---|---|---|---|---|
| | [illegible] | 767669600 | تعلیماتی عمومي امر | صالح محمد (ظفر) |
| | [illegible] | 778534908 | پلان عمومي مدیر | سردار احمد (احمدی) |
| | [illegible] | 773697722 | احصائیه مدیر | حضرت خان (زیارمل) |
| | [illegible] | 787009070 | ولایتي تخنیکي همکار | حزب الله (صافي) |

د پکتیکا ولایت

انجنیر محراب الدین ( شفیق )

**د ولایت په کچه عمومي معلومات ولایتي پروفایل**

| | |
|---|---|
| الف. د ولایت نوم | پکتیکا |
| ب. په ولایت کې د ولسوالیو شمیر | ۱۹ |
| ج: نفوس | ۷۷۵۴۹۸ |
| د: په ولایت کې د عمومي زده کړو د ښوونځیو شمیر د جنسیت په اساس | |
| د نارینه ښوونځیو شمیر | ۲۵۹ |
| د ښځینه ښونځیو شمیر | ۳۲ |
| دمختلط یا ګډ ښوونځیو شمیر | ۱۱۰ |
| ه: په ولایت کې دنوعیت له مخی د عمومي زده کړو د ښوونځیو شمیر | |
| دلومړنیو ښوونځیو شمیر | ۲۷۱ |
| د منځنی دوری د ښوونځیو شمیر | ۵۵ |
| د لیسی دوری د ښوونځیو شمیر | ۷۵ |
| و: په ولایت کې د عمومي زده کړو د زده کوونکو شمیر د جنسیت په اساس | |
| د نارینه زده کوونکو شمیر | ۱۰۸۲۷۹ |
| د ښځینه زده کوونکو شمیر | ۲۵۹۱۵ |
| دنارینه دایمی غیر حاضرو زده کوونکو شمیر | ۱۳۰۶۳ |
| د ښځینه دایمی غیر حاضرو زده کوونکو شمیر | ۲۲۶۸ |
| ز:جغرافیائي معلومات | |
| ښار ته نژدی ولسوالیو شمیر | ۳ |
| لری پرتو ولسوالیو شمیر | ۱۶ |
| ح: امنیتی وضعیت | |
| په ولایت کې د تړل شوو ښوونځیو شمیر | ۲۳ |
| د تړل کیدو لاملونه یي | نا امني ، د خلکو ترمنځ قومی اختلاف او د تشکیل کمبود له وجهی تړل شوی دی. |
| د تړل شویو ښوونځیود ښوونکو او زده کوونکو وضعیت | په ۱۳۹۸ کال کښی ۱۸ بابه ښوونځی د امنیتی ستونزو له وجی غیر فعال دی ښوونکی نور ښوونځیوته خدمتی او د زدکوونکو برخلیک نامعلوم دی. |
| د امنیتی پیښیو شمیرپه ولایت کې چې تعلیمی آسانتیاوی ګواښي | |
| ط: اقتصادی وضعیت | |
| دپکتیکا ولایت د عواید و او شتمنیو ډلي په دري برخو یعني لوړه منځني او ټیټه کچه ویشل شوي. پدي کي بیا د تخمین له مخي لوړه کچه یا شتمني ډلي ۱۵ سلنه د منځني کچي ډلي ۲۵ سلنه او ټیټه یا غریبي ډلي ۶۰ سلنه دي، تجاران ،صنعت کاران ، بزګران او کسب کاران د عوایدو او شتمنیو په منځ ته راوړو کي ونډه لري او دوي بیا په لوړه منځني او ټیټه کچه د شتمني او عوایدو په درلودلو خپل فعالیتونه پر مخ بیایي په پکتیکا کي وګړي په قومي جوړښتنو،حزبي جوړښتنو ،مدني تولني ،مذهبي جوړښتنو او عایداتي جوړښتنو باندي ویشل شوي دي چي هر جوړښت د خپلو فعالیتونو په اساس د یو ولایت په سطحه د پوهنې په برخه کې خپل تاثیرات لري. | |

## د کړنو لنډيز:

### 1. **په ولایت کې د ټولو ښوونځیو د کیفیت په برخه کې عمده لاسته راوړنې.**

- د۱۳۹۸ کـال کـې د ۱۵۸۴۱۸ ټوکـه درسـی او لارښـود کتابونـه د پـه ښـوونځیو کـې ویشـل شـوی دی چـې د زده کوونکـو پـه تـدریس بهیـر کـې مثبـت اغیـزه کـړی ده یـادونی وړ ده چـې یـاد کتابونـه د زده کوونکـو څخـه راټـول شـوی او بیـا پـه زده کوونکـو ویشـل شوی دي.
- د ۱۳۹۸ کـال پـه اوږدو کـې ټـول ټـال ۱۰تنـه د ښـوونځیو اداری کـارکوونکي او مـدیران د SMTبرنامـه کـې او ۱۲ تنـه ښـوونکی پـه TTCبرنامـه کـی روزل شـوی دی چـې پدې سره به ښوونکي له تدریسی نویو میتودونو او تجربو څخه برخمن شي.
- پـه ۱۳۹۸ کـال کښـی ۲۰تنـه ښـوونکی او علمـی نظـارت کـوونکی دتدریسـی وسـایلو دکـارولو پـه برخـه روزل شـوی چـی پـه نتیجـه کښـی تدریسـی وسـایل پـه ښـه توګـه کـارول کیږی کوم چی په پوهنیزه ډګر کښی دکیفیت دلوړوالی سبب ګرځی.
- دمضـمون دمحتـوا یـاتو اړونـده برخـه کښـی ۸ ترننګونـه ترسـره شـوی، چـی دغـه ترننګونه دمضمون محتوا دښه پوهیدو په بهیر رغنده رول لری.
- پـه ۱۳۹۸ کـال کښـی د پکتیکـا ولایـت اړونـد ۱۱ تنـه نارینـه ښـوونکی د ۳-۶ ټـولګی پـوری اړونـد دریاضـی او لیـک لوسـت پـه برخکـه کـې روزل شـوی چـی دلیـک لوسـت دکیفیت په تړاو رغندل رول لوبولی شی.

### 2. **په ولایت کې زده کړو ته د برابر لاسرسي په برخه کې عمده لاسته راوړنې.**

- د۱۳۹۸کـال پـه اوږدو کـې ټـول ټـال ۱۶۶۶۲ تنـه زده کـوونکي چـې ۳۷۶۹ تنـه یـې ښـځینه دي او ۱۲۸۹۳ تنـه یـې نارینـه دی د عامـه پوهـاوي پـه تـرڅ کـې د زده کړو ترلاسه کولو په موخه نوي جذب شویدي.
- دپکتیکـا ولایـت اړونـد ۱۱۲ بابـه ښـوونځیو تـه کمکـی وجهـی ویشـل شـوی، ددغـه کـومکی وجهـو دویش لـری پـه دوام سـره پـه دیـاد ولایـت دمکتـب عمـر ماشـومانو ښوونی اور روزنی ته دلیوال تیا لمنه به نوره هم پراخه شی.
- د۱۳۹۸ کـال پـه اوږدو کـې د اقـرا برنـامې اړونـد پکتیکـا ولایـت تـه پـه لمـړي مرحلـه کـې پـه ۱۶ولسـوالیو کـې ۱۸۵ بـاب ښـوونځیو لپـاره د ودانیـو جوړولـو قـرارداد شـویدي چـې ۱۳ بـاب ښـوونځیو ودانـی تکمیـل شـوی دی، ۱۴۵ بـاب ښـوونځیو ودانی کار جریان لری او ۳۵ باب ښوونځیو ودانیو ته بودیجه نه ده راغلی.

- د ۱۶ ولسوالی اړوند ۱۸۵ ودانیو، ۴ اضافی ټولګیې، ۶ انګړ دیوالونه، ۹ نویو کیندل شویو اوبو څاګاني او ۸۳ مبرزونه د اړوند لسوالیو پوهني آمریتونو په ښوونځیو کې د EQRA برنامې تر چتر لاندې نړیوال بانک په مالي مرسته زده کوونکو دښې راتلونکي او زده کړو ته د مناسبې چاپیریال برابرولو په موخه د جوړیدو چارې پیل چې په نږدې راتلونکي کې به بشپړې او ګټې اخیستني ته وسپارل شي چې پدې ترڅ کې ځینې پروژې چې زده کوونکو ته د مناسب چاپیریال او زده کړو ته د برابر لاسرسي په موخه سجیل شوي او د زده کوونکو د ناستې لپاره ګټې اخیستني سپارل شویدي په لاندې ډول دي، هغه ۱۳ پروژې چې د EQRA برنامې له لورې ترسره او ګټې اخیستني ته سپارل شویدې.
- په ۱۳۹۸ کال کې په پکتیکا ولایت کښی ۳۸۶ ښځینه، ۱۳۱ نارینه سیمه ایزو زدکړو CBE ټولګی جوړ شوی، پدغه ټولګیو کښی ۲۵۲۲تنه ښځینه او ۶۱۹۵تنه نارینه زدکونکو جذب او د ۱۴۴ تنه ښوونکو لخوا ورته تدریسی چار په مخ وړل کیږی چی په نتیجه کښی د مکتب عمر ماشومانوته د برابری لاسرسی لمنه زیاته پراخه شوی.
- په همدی توګه په پکتیکا ولایت کښی په ۱۳۹۸ کال کښی دچټکو زده کړو ALC دوه نارینه او ۸ ښځینه ټولګی تاسیس شوی چی ۵۴۷ ښځینه او ۱۱۲ نارینه ماشومان پکښی زدکړه کوی، چی په نتیجه کښی بیا انډولیزه او برابر لاسرسی ښوونی او روزنی ته نور هم پیاوړی شوی.
- په ۱۳۹۸ کال کی ۴۴ د CBE ټولګی مرکزی ښوونځیوته دښوونی اوروزنی د دوام په موخه استول شوی کوم چی ښوونځی ته دلاسرسی په برخه کښی مثبتی پایلی رامنځ ته کولی شی.

3. **<u>په ولایت کې د اغیزمن اوشفاف مدیریت په برخه کې عمده لاسته راوړنې.</u>**

- د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې ټول ټال ۵۱۴ باب ښوونځې د پکتیکا ولایت په کچه ، پوهني ریاست څارني غړو او احصایي کارمندانو له لورې د زده کړو د کیفیت او کمیت د ښه والي په موخه څارل شویدي،او ۳۵۱ راپورنه د څارني په ترڅ کې ترتیب شوي او د پوهني ریاست په شمول اړوند مسوولینو سره پخپل وخت شریک شویدي.
- دولایت په کچه ۹۷ سلنه ښوونکی په تدریسی چاپیریال کښی سوب او باقی ۳ سلنه ښوونکی په موقتی توګه ناسوب دی.

- د ښوونځیو اداري شوراګانو له لوري ۱۲ د عامه پوهاوی کمپاینونه په مسجد، مکتب شورا، کلیو او یا هم په عامه ځایونو کې جوړشوی دی، ددغه کمپاینونو په نتیجه کښی د عامه خلکو اذهان دښوونی او روزنی په برخه کښی روښانه او تشویق شوی.
- دولایت په کچه په ۱۳۹۱ کال کی ۳۵ د ښوونځی شوراګانی تاسیس شوی،چی ددغه شوراګانودتاسیس په نتیجه کښی دانډولیزه لاس رسی او باکیفیته ښوونی او روزنی اهمیت خلکو ته واضح بیان شوی، او دیاده ولو وړ ده چی په نوموړی ولایت کښی ۱۷ سلنه د ښوونځیو دشوراګانو غړی په مسلکی توګه روزل شوی چی په پایله کښی دښونځی شوراګانی په منظمه توګه په تاکلی وخت سره د عامه پوهاوی کمپاینونه او مجالس په مخ ته وړی.
- په پکتیکا ولایت کی په ۱۳۹۸ کال کی ۱۲ ښوونکی د مسلکی مضامینو په اساس تبدیل شوی، چی په پایله کې د مسلکی مضامینو دتدریس چاری نور هم پیاوړی شوی.
- په نوموړی ولایت کښی ټول ټال ۳۴۶۱ تنه نارینه او ۹۹ تنه ښځینه ښوونکی د زدکړی ورکولو چاری پرمخ بیایي چی له دی جملی نه ۲۷۷ نارینه او ۳۳ تنه ښځینه ښوونکی په ۱۳۹۸ کال کې نو ګمارل شوی چی په پایله کی د دښونځیو د تدریس چاری ستونزه تر یوحده حل شوی ده.

## عمده ستونزې/ مشکلات:

- په مجموعي ډول د درسي کتابونو کمبود.
- دښوونځی د ودانی نشتون.
- په رسمي او کم معاش ښځینه ښوونکي ولسوالیو ته نځي.
- په ښوونځیو کې د رسمي بستونو یا تشکیل کمبود.
- د ښوونکو او اداري کارمندانو د سویه لوړوني لپاره د بودیجې نشتون.
- د ګمارنې په پروسه کې ځنډ تر ټولو لویه ستونزه ده.

## حل لارې/وړاندیزونه

- د درسی کتابونو استول .
- د دښوونځی تعمیر جوړه ول .
- په ولسوالیو کې د ښځینه ښوونکو ته لوړ معاشونه ورکړل شی.
- د پکتیکا ولایت د بسته نوی تشکیل ورکړل شی.

- د ارتقای ظرفیت لپاره د د دپکتیکا ولایت لپاره ځانګړي بودیجه په نظر کې ونیول شي.
- د خالي بستونو د مقررۍ په پروسه کې د چټکتیا رامنځته شي.

## د پوهني وزارت د دريم ستراتيژيک پلان د عرصو په اساس پرمختګونه او لاسته راوړني.

1. کيفيت او مرتبط والی

**عمومی موخه:** زده کوونکي په هره برخه کې پوهه، اړتیاوی او ارزښتونه چې د یو تولیدوونکي، جوړ او دنده پیژندونکي هیواد وال لپاره اړین دي تر لاسه کړي او د اعیزمنې ونډې په اخیستو سره به د تولنیزې سلامتیا او آرامتیا لپاره چمتو او په داخلي او نړیوالو بازارونو کې به د تل پاتې بوختیا لپاره تیار شي

لمړی جدول: دکیفیت او مرتبط والی په برخه کې پلان شوي شاخصونه او دهغوی پرمختګ بنيی

| شماره | شاخصونه | کلنی موخه | پرمختګ/لاسته راوړنه | توپير٪ |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ولایت ته د استول شویو درسی او دښوونکېد لاربنود کتابونو شمیر | ۱۰۹۸۰۸۰ | ۱۵۸۴۱۸ | ۸۵ |
| ۲ | د ولایت له خوا ولسوالیو ته د ویشل شویو درسی او دښوونکي د لاربنود کتابونو شمیر | ۱۰۹۸۰۸۰ | ۱۵۸۴۱۸ | ۸۵ |
| ۳ | ښونځيو ته د ویشل شویو درسی او د ښوونکي دلاربنود کتابونو شمیر | ۱۰۹۸۰۸۰ | ۱۵۸۴۱۸ | ۸۵ |
| ۴ | دښوونځيومدیران، ښوونکي او علمی نظارت کوونکو شمیر چې د نویو تدریسي وسایلو دکارولو لپاره روزل شوي دي | ۱۵۶ | ۲۰ | ۸۷ |
| ۵ | دښوونکو شمیر چې د ښوونکو روزنې په مرکزونو TTC له مضموني زده کړوڅخه برخمن شوي دي | ۰ | ۱۲ | ۰ |
| ۶ | د مضمون دمحتویاتو اړوند ترسره شویو ترینګونو شمیر | ۵۰ | ۸ | ۸۴ |
| ۷ | دښونځيو د مدیرانو شمیر چې د ښوونکو د ملاتړ اولاربښونې په موخه روزل شوي دي | ۰ | ۲ | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۸ | دښوونځیو په کچه د هغه تعلیمي څارنو شمیر چې د ښوونکو د ملاتړپه موخه ترسره شوي دي | ۰ | ۲۵ | ۰ |
| ۹ | په ښوونځیو کې دهغه ښوونکو شمیر چې د ښوونکو د لارښوونې او ظرفیت لوړوالی په موخه فرصتونه ورته برابر شوي دي آزمایشي ښوونځي | ۰ | ۱ | ۰ |
| ۱۰ | د ښوونځیو د اداری کارکوونکو او مدیرانو شمیر چې د SMT په برنامه کې روزل شوي دي | ۰ | ۱۰ | ۰ |
| ۱۱ | د ښوونکو شمیر چې د۳- ۶ ټولگی پوری د تدریس په موخه د ریاضی، لیک او لوست په برخه کې روزل شوي دي. | ۱۳۴ | ۱۱ | ۹۱ |

**دوهم جدول:ستونزي او وړاندیزونه:**

| **ستونزي** |
|---|
| ۱.پوهني ریاست ته له مرکز څخه یو اندازه کتابونه ترلاسه شویدي خو په هغه اندازه ندې چې د زده کوونکو اړتیا پرې پوره شي اوس مهال هم د کتابونو د کمښت محسوس کیږی، لامل یې له مرکز څخه د کتابونه نه ترلاسه کول دي.<br>۲. دښوونځیومدیران، ښوونکي او علمی نظارت کوونکو شمیر چې د نویو تدریسي وسایلو دکارولو لپاره روزل شوي نه دی روزل شوی.<br>۳. دښوونکو شمیر چې د ښوونکو د روزنې په مرکزونو TTC له مضموني زده کړوڅخه برخمن شوي دي د زده کړو څخه برخمن شوی ندی.<br>**نوری ستونزی**<br>۱.ښوونځیو ودانی د جگړې له امله ویجاړې شوي؛<br>۴۸۹۲۲۲/۲ ښونیز مرکزونه لابراتوار نه لري؛<br>۳. ښونیز مرکزونه کتابتونونه او اداري لوازم نه لري۵۶۶؛<br>۴. د پکتیکا په اوو ولسوالیو هیڅ رسمي ښځینه ښوونکي نشته.<br>۵.د ښوونکو لارښود کتابونه د ستونزو د حل په موخه ښوونکو ته ورکشاپ ورکړل شی |

| د پوهنې وزارت ته وړاندیزونه |
|---|
| 1. د پـوهنې وزارت مقـام نــه مــو هیلــه ده چــې د ټولــو زده کوونکــو د احصــایی پــه نســبت کمبــود درسی کتابونه باید د تعلیمی کال د پیل ترمخه زده کوونکو ته برابر شی.<br>2. د نـوې نصـاب کتـابونو سـتونزی کـه چیرتـه د ورکشـاپ پـه ذریعـه پـه همغـږی سـره حـل شـی او د بیا ځل لپاره یو نوی نصاب جوړ شی ځکه چې دا نصاب ډیر ستونزی لری.<br>3. د پـوهنی جلیلـه وزارت بایـد د تعلیمـی نصـاب د چـاپ ، ویـش او انتقـال چـاری پـه خپـل وخـت سره ترسره کړی.<br>4. پوهنې وزارت باید د کارمندانو د سویه لوړولو سمینارونه جوړ کړی. |

**۲. زده کړې ته برابر لاسرسی:**

**عمـومی موخــه:** عمـومي موخــه: اغیزمنـو بــا کیفیتــه او اړینـو ښـوونیزو فرصـتونو تــه د هیـواد ماشــومان، ځوانـــان، او لویـــان پــه ځـــانګړی ډول نجـــونی او ښـــځی برابـــر او هـــر اړخیـــز لاسرسی لري

دریم جدول:د برابر لاسرسی په برخه کې پلان شوي شاخصونه او دهغوی پرمختګ ښیی

| شمیره | شاخصونه | کلنی هدف | پرمختګ/لا سته راوړنه | توپیر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | په ښونځیو کې دنویو شامل شویو زده کوونکو شمیر نارینه | ۱۳۴۴۶ | ۱۲۸۹۳ | ۴ |
| ۲ | په ښونځیو کې دنویو شامل شویو زده کوونکو شمیر ښځینه | ۴۱۳۱ | ۳۷۶۹ | ۸ |
| ۳ | د نویوتاسیس شویوښونځیو شمیر نارینه | ۳۳ | . | ۰ |
| ۴ | د نویوتاسیس شویوښونځیو شمیر ښځینه | ۰ | . | ۰ |
| ۵ | د نویوتاسیس شویوښونځیو شمیر مختلط/ ګډ | ۰ | . | ۰ |
| ۶ | دهغو ښوونځیو شمیر چې نوېودانیورته جوړشوی دي | ۰ | ۶ | ۰ |
| ۷ | د اضافی جوړو شوو ټولګیو شمیر | ۱۲۳ | ۹ | ۹۳ |
| ۸ | د بیا رغول شویو ښوونځیو شمیر | ۰ | ۸۳ | ۰ |
| ۹ | دهغــه ښــوونځیو شــمیر چــې احــاطوي دیوالونــه ورتــه جــوړ شوي دي | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۰ | د نویوکیندل شویو د اوبو د څاګانو شمیر | ۲ | ۲ | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | په ښوونځیو کې دنویو جوړو شویو مبرزونو شمیر | ۰ | ۸ | ۰ |
| ۱۲ | دهغو ښوونځیو شمیر چې کمکی وجهی school grant بیترلاسه کړی دي | ۲۰ | ۱۱۲ | ۰ |
| ۱۳ | دچټکو زدهکړو ALC نویو جوړ شویو ټولګیو شمیر نارینه | ۰ | ۲ | ۰ |
| ۱۴ | د چټکو زده کړو ALC نویو جوړ شویو ټولګیو شمیر ښځینه | ۰ | ۸ | ۰ |
| ۱۵ | د چټکو زده کړو په ټولګیو کې دزده کوونکو شمیر نارینه | ۰ | ۱۱۲ | ۰ |
| ۱۶ | د چټکو زده کړو په ټولګیو کې دزده کوونکو شمیر ښځینه | ۰ | ۵۴۷ | ۰ |
| ۱۷ | د سیمه ایزو ټولګیو CBE نویو جوړ شویو ټولګیو شمیر نارینه | ۰ | ۱۳۱ | ۰ |
| ۱۸ | د سیمه ایزو ټولګیو CBE نویو جوړ شویو ټولګیو شمیر ښځینه | ۰ | ۳۸۶ | ۰ |
| ۱۹ | په سیمه ایزو ټولګیو کې دزده کوونکو شمیر نارینه | ۰ | ۶۱۹۵ | ۰ |
| ۲۰ | په سیمه ایزو ټولګیو کې دزده کوونکو شمیر ښځینه | ۰ | ۲۵۲۲ | ۰ |
| ۲۱ | د نارینه ښوونکو شمیر چې د CBE ټولګیو لپاره استخدام شوي دي | ۰ | ۱۱۳ | ۰ |
| ۲۲ | دښځینه ښوونکو شمیر چې د CBE ټولګیو لپاره ګمارل شوي دي | ۰ | ۳۱ | ۰ |
| ۲۳ | دCBE ټولګیو شمیر چې مرکزی ښوونځیو لیږدول شوي دي | ۰ | ۴۴ | ۰ |
| ۲۴ | دهغه نارینه او یا ښځینه زده کوونکو شمیر چې له CBE څخه مرکزی ښوونځیو ته انتقال شوي دي | ۰ | ۰ | ۱۰۰ |

څلورم جدول: ستونزی او وړاندیزونه

**ستونزی او وړاندیزونه**

**ستونزی**

۱.نه کومه مرسته نده ترلاسه شوي ، څکه چې د مقاماتو یا مرستندویه همکارو موسسو له لورې کومه د کمکی وجهي ښوونځیو ته په پام کې نده نیول شوي.

۲. زیات شمیر ښوونځی اوس هم ودانی نلری.

۳.زیات شمیر ښوونځی مو رغول ته ضرورت لری.

۴.اضافه ټولګي باید جوړ شی.

**<u>نوری ستونزی</u>**

۱.ښوونځیو ته باید احاطه دیوالونه جوړ شی.

| د پوهنې وزارت ته وړاندیزونه |
|---|
| د پوهنې باید د ښوونځیو لپاره د ودانیو جوړولو او تجهیز کولو په باره کې برابري او اړتیا ته ځانګړې پاملرنه وکړي اوخپل پلان کې وروسته پاتې او اطرافی ولسوالیو ته ډیره توجه وکړي.<br>ښوونځی باید سرپناه ولري ، تشنابونه ډیره اړتیا ده په ځانګړې توګه د نجونو تشنابونه چې له همدې امله ډیري ځایونو کې نجوني ښوونځیو ته نه راځي ، د څښاک د صحی اوبو نشتوالی ، دنصاب کمبود ، د ښوونکو بستونو کمبود ، د اجیرانو کمبود ، داسې ښوونځي شته چې تر شپږم ټولګې رسیدلي دي خو په تشکیل کې یو یا دوه ښوونکي لري هیله کیږی که چیری د یادو ښوونځیو تشکیل زیات شي.<br>د پوهنې د ښوونځیو لپاره د ودانیو جوړولو او تجهیزاتو کولو په باره کې برابری او اړتیا ته ځانګړی پاملرنه وکړی او خپل پلان کې وروسته پاتی او اطرافی ولسوالیو ته ډیر توجه وکړی. |

## ۳. روڼ او اغیزمن مدیریت

**عمومی موخه:** دبا کیفیته او برابر ښوونیزو خدمتونو دوړاندی کولو لپاره دمرکز او ولایتونو په کچه د اغیزمن روڼ او ځواب ویونکی مدیریت پراختیا اوپیاوړتیا

پنځم جدول:د شفاف او اغیزمن مدیریت په برخه کې پلان شوي شاخصونه او دهغوی پرمختګ ښیی.

| شمیره | شاخصونه | کلنی هدف | پرمختګ/لاسته راوړنه | توپیر٪ |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | دخارل شویو ښونځیو شمیر | ۴۴۰ | ۵۱۴ | ۰ |
| ۲ | د جوړ شویو او تسلیم شویوڅارنیزو راپورونو شمیر | ۰ | ۳۵۱ | ۰ |
| ۳ | نیږدی ښوونځیو ته دتبدیل شویوښوونکو شمیر نارینه ، ښځینه | ۰ | ۲۴ | ۰ |
| ۴ | د مسلکي مضامینو په اساس د تبدیل شویو ښوونکو شمیر | ۰ | ۱۲ | ۰ |
| ۵ | د استخدام شوو ښوونکو شمیر نارینه | ۲۵۸ | ۲۷۷ | ۰ |
| ۶ | د استخدام شوو ښوونکو شمیر ښځینه | ۲۰۸ | ۳۳ | ۸۴ |
| ۷ | د ټولو ښوونکو شمیر نارینه | ۰ | ۳۴۶۱ | ۰ |
| ۸ | د ټولوښوونکو شمیر ښځینه | ۰ | ۹۹ | ۰ |
| ۹ | دښوونکو د حاضری سلنه | ۱۰۰٪ | ۹۷٪ | ۳ |
| ۱۰ | دښوونځیو په کچه د نویو تاسیس شویو اداری شوراګانو شمیر | ۰ | ۳۵ | ۰ |
| ۱۱ | د ښوونځیو د برابر شویوپرمختیایی پلانونو SIP شمیر | ۰ | ۳۴ | ۰ |
| ۱۲ | د ښوونځیو د شوراګانو د روزل شویو غړو شمیر | ۲۰٪ | ۱۷٪ | ۳ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | د عامه پوهاوی د پروګرامونو شمیر چې په مسجد، مکتب شورا، کلیو او یا هم په عامه ځایونو کې جوړشوی دی. | ۱ | ۱۲ | ۰ |

شپږم جدول: ستونزی او وړاندیزونه

| **ستونزی او وړاندیزونه** |
|---|
| **ستونزی** |
| په ښوونځیو کې د ښوونکو ګمارنه د رشتي په بنسټ د اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو خپلواک کمیسون له لوري ترسره کیږی.<br>۱.د ښځینه ښوونکی استخدام باید امتیازی ډول وه شی چې ضرورت ورته زیات دی.<br>۲.د ښوونکو اسخدام باید وه شی چې خالی بستونه ډک شی او زده کوونکو د زده کړی بهیر په ښه ډول مخکی لاړ شی.<br>**<u>نوری ستونزی</u>**<br>۱.هیله ده د پوهني آمریت په واک کې د مصارفاتو امکانات برابر شي.<br>۲.د پوهني وزارت څخه هیله کیږي چې د مرکز نظر ولایاتو ته هم وکړي.<br>۳.په معارف کې باید د هر نوعه وکیلانو مداخلي او فرمایشونه بند شي.<br>۴.ترانسپورتي ستونزي ډیري دي چې لدې امله په ځینو عرنیو ولسوالی کې ښارنه کول هم ستونزمن کار دي |
| **د پوهنې وزارت ته وړاندیزونه** |
| هیله ده چې ښوونکو ته د منطقوي امتیاز د حوالی پر اساس په رشتوي ډول تاکل او تبدیل شي.<br>پوهنی وزارت د شوراګانو جوړولو او هغوي سره جلسي کولو لپاره مالي کومک وکړي.<br>د ښارني غړو لپاره ترانسپورت په نظر کې ونیول شي.<br>هغه ښوونځي چې په نورم او ستندرد برابر نه وي چې مدغم شي. |

**پایلې**

د دریم استراتیژیک پلان د دریو عرصو د لاسته راوړنو څخه څرګندیږی چې دپکتیکا ولایت دپوهنی ریاست د موخو په لاسته راوړنوکی کوټلی ګامونه ترسره کړیې، خو یو شمیر فعالیتونه د ځینو ستونزو له امله چې په مربوطه برخوکښی ذکر شوی ندی تر سره شوی.

### ۱.کیفیت او تړاو

دکیفیت او تړاو په برخه کښی تولټال ۱۱ شاخصونه موجود دی ، د۵ شاخصونوپه برخه کښی د دمربوطه مسؤلینو له لوری لازمي کړنی تر سره شوی، چی په نتیجه کی دښوونکو ظرفیت لوړ، دتدریس او زدکړی په بهیر کښی ښه والی رامنځ ته دشاګردانو مسلکی او تعلیمی مهارتونوبهبود موندلی.

### ۲.زدکړو ته برابر لاسرسی

په ټولیزه توګه د برابر لاسرسی په برخه کښی ۲۴ شاخصونه/فعالیتونه شامل دی، دمسؤلینو له لوری د ۲۲ شاخصونو په برخه کښی لازمی کړنی تر سره شوی، چی ددغه فعالیتونو د تطبیق په پایله کی لویانو،ځوانانو،ماشومانو اوپه ځانګړی توګه ښځینه و ته یو شان او مساوی با کیفیته تعلیمی فرصتونه برابر او ګټی اخیستنی ته چمتو دی. دیادونی وړ ده چی د بودجی دنه شتون له امله کومکی وجی ندی چمتو شوی او ۲ شاخصونه/فعالیتونه دبوجی او تشکیل د کمبود له وجی ندی تر سره شوی.

### ۳.روڼ او اغیزمن مدیریت

پدی برخه کښی ۱۳ شاخصونه/فعالیتونه موجود دی چی دمربوطه مسؤلینو له لوری په ټولیزه توګه د۱۳ شاخصونو په برخه کښی لازمی کړنی ترسره شوی، په پایله کی د دی برخی دشاخصونو تکمیل روڼ او اغیزمن مدیریت دولایت او ولسوالیو په سطحه ځواب ویلوته چمتو چی په مساوی، باکیفیته او یوشان ښونیزه خدماتو کښی رغند رول لری.

**مالی راپور**

پدی برخه کې د عادی او انکشافی بودجې وضعیت د کلیدی ساحو په پام کې نیولو سره چې د ملی ستراتیژیک پلان د پلی کیدو لپاره اختصاص شوی دی بیان کړی.

**عادی اوانکشافی بودجه، اختصاص شوی بودجه او لګښتونه**

| دبودجی نوعیت | NESP-III Pillars | دبودجی تخصیص | لګښتونه | باقی |
|---|---|---|---|---|
| عادی بودجه | ۱.کیفیت او مرتبط والی | | | |
| | 2.برابر لاسرسی | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | ۳.مـــوثر او شـــفافه مدیریت | |
| **138,467** | 1,035,386 | 1,173,853 | <br>Disc fund<br>discretionary<br>discretionary | انکشـــــــــافی بودجه |